**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي تېوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانگه**

**د متحدالمآل گڼه: ۳۰**　　**نېټه: ۲۹ / ۳ / ۱۴۴۴ ه ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۱/۷/۲۷ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د عالي شورا جلسه د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة، محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب، په مشرۍ دایره شوه، چې د یاد مجلس د اجنډاء شپږمه موضوع داسې وه:

((د سترې محکمې د دارالانشاء ریاست د ۱۴۴۴/۲/۴ هـق نېټې د (۱۴) گڼه متحدالمآل په درېم جزء کې داسې هدایت صادر شوی و: (د قطعي پرېکړو د تطبیق امر د تمیز له خوا ورکول کېږي، د تمیز عالي ریاست په خپل لیک کې هغه مرجع ټاکي چې پرېکړه ورته د تطبیق په غرض استوي، د هغه ځنډ د مخنیوي په موخه، چې د دې ترتیب له امله رامنځته کېږي، غور کېږي.)

بناءً، د (د قطعي پرېکړو د تطبیق امر د تمیز له خوا) له امله د منځته راتلونکي ځنډ د مخنیوي په موخه څه ترتیب وشي؟))

د عالي شورې محترم مقام د ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـ ق نېټې د (۱۱) گڼه تصویب د شپږمې پرېکړې پر بنسټ د پورتنۍ موضوع په هکله داسې هدایت وکړ:

((د ابتدائیه، او استیناف محکمو او د نظامي محکمو پرېکړې چې په ابتدائیه یا استیناف پړاو کې قطعي کېږي، د اجراء د امر اخیستلو لپاره دې تمیز ته نه استول کېږي، خپله دې تطبیق کړي. ځکه چې قطعي پرېکړې تمیز نه لري او د تمیز د کتنې په موخه استولو کې د تطبیق لپاره کومه گټه نه لیدل کېږي او اصولاً یې تمیز نه شي لیدلی ، او بله دا چې د قطعي پرېکړو په تطبیق کې ځنډ راځي.

**یادښت:** هغه شمېر پرېکړې چې د مودې د انقضاء له امله قطعي شوې وي، اجراء یې د ابتدائیه او استیناف محکمو صلاحیت نه دی، په هغه صورت کې چې د اړونده تمیز عالي ریاست دا پرېکړې د تطبیق وړ وگڼلې، د تطبیق لیک یې ورکوي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورې د محترم مقام د پورتني تصویب شپږمه پرېکړه د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپانه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.